Pakhtunkhwa " پښتونخوا "

دویيمه ګڼه اپریل 1988

د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند خپرونه

PASCHTUNCHWA / PASHTOONKHWA

ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISHEN
PARTEI DER PASCHTUNEN

ORGAN OF THE PASHTOON SOCIAL
DEMOCRATIC PARTY (PSDP)

www.pashtoonkhwa.com



## فخر افغان



(۱۸۹۰ - ۱۹۸۸ع)


خپرونکی: د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند
پښتونخوا / افغانستان

HERAUSGEBER: SOZIALDEMOKRATISCHE PARTEI DER PASCHTUNEN
PASCHTUNCHWA / AFGHANISTAN

PUBLISHER: PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY
PASHTOONKHWA / AFGHANISTAN



زمه وار: د وکتور کبیر ستوری
V. I. S. P.:
RESPONSSIBLE FOR CONTENTS:
DR. KABIR STORI
HÖNINGER WEG 65
5000 KÖLN 51
WEST GERMANY
TEL. (0221) 3602472



د خپرونې جرګه
REDAKTION
EDITORS BOARD

| | |
|---|---|
| ALI KHAN MAHSOOD | علیخان محسود |
| HIDAYAT BANGASH | هدایت بنګش |
| HABIB STOMAN | حبیب ستومان |
| KHAN SAPI | خان ساپی |
| SHAHJAHAN | شاجهان |


## سرلیکونه


| مخ | لیکوال | |
|---|---|---|
| ۱ | ستوری | باچاخان د پښتنو د قامي ازادۍ - پښتونولي غورځنګ پلار . |
| ۱۲ | ګردیوال | عدم تشدد د پاسیفیزم او ملي - ازادۍ غوښتونکي غورځنګونه . |
| 10 | علي خان | د پښتو لمونځ او باچاخان |
| ۲۰ | شاجهان | کابل راډیو او د هغې د خپرونو - اغیزو ته یوه لنډه کتنه |
| ۲۷ | خبریال همایون | مطبوعاتي کانفرانس |
| ۳۴ | ځاپي | بلنه «شعر» |

لیکونکی: ستوری

# باچاخان

## د پښتنو د تمامی آزادی بخښونکی غورځنګ پلار

مخکښې لدې څخه چه د پښتنو تمامي آزادي بخښونکي غورځنګ ته ځغلنده کتنه وکړو . لیکن دا چه ووایو چې د پر مختلونکو هیوادونو تمامی آزادي بخښونکي غورځنګونه د اروپا د تمامی غورځنګونو د تاریخ د اصولو په بنسټ روښانه کیدلی نه شي . ځکه چې په اروپا کښې تمامی غورځنګونه د بورژوازی په غیږه کښې لوی شوی . او د پښتو دا ګړی او ځایو په واسطه غښتلی شویدی چه ښکیلاکی (استعماری) او ځپناک (استثماری ، استحصالی) بڼه ئې لرله(۱) . خو د پر مختلونکو هیوادونو تمامی غورځنګونه د ښکیلاک (استعمار) په لمړي کښې د ښکیلاک ګرو (استعمارچیانو) په ضد منځ ته راغلی دی او لدې کبله ضد ی امپریالستی ، او ښتونی (انقلابی) او آزادی بخښونکی خوی لري .

د پښتونتماى غورځنګونه هم پيدى د لانبى راځى .

که چرته د پښتونخوا لوى تاريخ ته لنظر وا چوو نو وبه وينو چى پيدى خاوره کښے درى تماى آزادى غښتونکى غورځنګونه منځ ته راغلى دى .

① د مغلو مقابل کښے د خوشحال خان بابا (۱۶۱۳ - ۱۶۸۹ ع) په مشرى په ۱۶۹۹ ع کال کښے (۲)

② د ايرانيانو مقابل کښے د ميرويس نيکه په مشرى په ۱۷۰۹ ع کال کښے تماى آزادى غښتونکى غورځنګ چه د غيل تماى دولت بنسټ ئى کيښود چه ناستون (پايتخت) ئى قندهار و .
او د قندهار په نامه ياديده چه وروسته بيا د احمد شاه بابا (۱۷۲۲ - ۱۷۷۳ ع) له خوا په ۱۷۴۷ ع کال کښے د افغانستان په نامه ولوموال شو (۳) .

③ د پيرنګيانو (انګريزانو) مقابل کښے د غفار خان . باچاخان فخرى افغان په مشرى . د دى مقابل پوله پيدى آخرنى تماى آزادى غښتونکى غورځنګ تنګه ده . خو ځنګه چه د دغه غورځنګ لمرل اړخونه په ډيره کوچنى مقاله کښے راغښتل کيدى نه شى نو ځکه ئى يوازى د تنظيمى (سازمانى) اړخ غټ ټکى په ګوته کيږى .

باچاخان ځپله ليکلى چى " زه د هشتنغر په

په اتمانزو نومی کلی په کال ۱۸۹۰ ع کښې پیدا شوی یم
هغه وخت د پیدایښت د نیټې د لیکلو رواج نه و او نه
څوک په لیک اولوست پوهیدل. لو ځکه د پیدا کیدو
نیټه چا لیکلی نه وه. خو داچې زه وایم چه په کال ۱۸۹۰ ع
کښې پیدا شوی یم د دې نه وایم چه خدای دې ځما مور وبخښی
ماته ویل چې ستا د ورور ډاکټر خالصاحب واده چې وته
د لیوولسو کالو وی او د ډاکټر صاحب واده په دسمبر ۱۹۰۱ ع
کښې شوی او لو ځکه زه وایمه چه زه په ۱۸۹۰ ع کښې پیدا
شوی یم"(۴)
باچاخان د انګریزی ښکیلاک (استعمار) د جنګ
څخه د خلاصیدلو د پاره په پښتنو کښې د زرهنی او منښتون (انقلاب)
پیل په ۱۹۲۱ ع کال په اتمانزو کښې دیوه آزاد لوړ ښوونځی
(هائی سکول) په جوړ ولو سره وکړ. د دې پیلی چه دوه ځکه
چې داکار دیوه سړی دلاسه پوره نه و نو مو یو جمعیت انجمن
اصلاح الافاغنه په نامه جوړ کړ. د دې انجمن دوه مهم کارونه
درلودل یو داچې په پښتنو کښې د زده کړی او علم شوق
پیدا کړی. او بل داچه د پښتنو نه منځه بد رواجونه
ورک کړی. لو ځکه مو په کلو او بانډو کښې دوری شروع کړی"(۵)

د باچا خان دې کارونو انګریزان سخت په تشویش کښې کړه او

دې ئې د دې کاله په ۱۹۲۱ د دسمبر د میاشتې په ۱۷ نیټه

(په دفعه ۴۰ سرحدي) سخت بندي کړ. او دا پدې غرض

وچه کوندې انجمن اصلاح افغانه د منځه لاړه شي. خو د انجمن

اصلاح افغانه فعالیت لا ایسې پراخه شو. او په ۱۹۲۳

کال کښې باچا خان ته قوم د فخر افغان لقب ورکړ.

د ۱۹۲۸ ع کال د مئي په میاشت کښې باچا خان د پښتون

رساله جاري کړه او په ۱۹۲۹ کال کښې د سرو پوښو غورځنګ

(د خدائي خدمتګارانو) بنسټ کېښنود. په دغه

وخت کښې د هند نیمه وچه کښې د مسلم لیګ په نامه او د

کانګرس په نامه غورځنګونه موجود وو. د مسلم لیګ غورځنګ

پېرنګیانو د کانګرس په ضد پیدا کړې وو چه د انګریزانو سره

په جګړه بوخت و نو ځکه باچا خان کانګرس ته لاس ورکړه او

پېرنګیان د هند د نیمې وچې څخه وتلو ته مجبور کړه.

د ۱۹۳۰ کال د اپریل د میاشتې په ۲۳ نیټه د پېښاور د

په قصه خانه کښې د خدائي خدمتګارانو په غونډه باندې پېرنګیانو

ډزې وکړې او باچا خان بیا بندي شو. د باچا خان د بند

ټوله موده ۳۷ کلونو ته رسېږي. نو ځکه ورته ویل کیږي چه

د باچاخان اصل پته (درک) جیل و.

دومره څومره چې د پیرنګیانو ښاروا زیاتي نه پاتیده. هغومره به سړو پرخو غوښتنک پراخیده. هر څوک چه به دی غوښتنک ته شاملیدل نو دا شرطونه به ئي کوله.

۱ زه د خدائ حاظر او ناظر ګڼم لوړه د خدائ سره دا وعملاً کوم چه زه به خدائ خدمتګار یم.

۲ څنګه چه خدای ته د خدمت ضرورت نه شته دی نو د هغه مخلوق خدمت د خدای خدمت دی.

۳ تشدد به نه کوم. څکه چې تشدد نفرت پیدا کوی او عدم تشدد محبت او د تشدد د لاسه د پښتنو کور ویران دی ولی چه د پښتنو تشدد همیشه د خپل ورور سره وی.

۴ پیری، جنبې، نرګلنی او دښمنی به د خپل پښتنون ورور سره نه کوم.

۵ که پښتنون ورور جبر ما سره وکړی. د هغه نه بدله نه اخلم.

۶ د ملک او تمام خدمت به خدای د پاره کوم. د خپل خدمت په عوض کښې به چانه څه نه غواړم.

۷ په بل تحریک کښې به نه شاملیږم.

۸ ناجائزه رسمونه او رواجونه به پریږدم.

کله چې په ۱۹۴۷ کال کښې د انګریزانو له خوا پاکستان جوړېده . نو خدائي خدمتګارانو په بنو کښې د خان امیر محمد خان د صدارت لاندې جلسه وکړه او خپل آزاد حکومت ئې اعلان کړ .

# پښتنو د خپل آزاد حکومت فیصله اوکړه

## پښتانه نه هندوستان غواړي نه پاکستان؛

د صوبې د جرګې - د اسمبلۍ د ممبرانو - د خدائی خدمتګارانو افسرانو او د "ځلمی پښتون" د جرګې یو شریک اجلاس په یویشتم د جون ۱۹۴۷ء په مقام د بنوں کښې د خان امیر محمد خان د صدارت د لاندې اوشو - دے اجلاس په اتفاق سره دا فیصله اوکړه - چې په دے ملک کښې د د پښتنو یو آزاد حکومت جوړ شي . چې د هغې د آئین بنیاد به په اسلامي اصولو جمهوریت . مساوات او اولسی انصاف باندې ایښودے شي . دا اجلاس هر پښتون ته اپیل کوی - چې د دے اعلیٰ مقصد د حاصلولو د پاره په یو مرکز باندې راغونډ شي . او بې د پښتون نه د د بل چا اقتدار ته سر تیټ نه کړي +

له طرفه د صوبهٔ سرحد د لوئې جرګې نه ۴۷

په همدغه ۱۹۴۷ کال کښې په قندهار کښې د محمد گل مومند،
گل باچا الفت او عبدالرؤف بینوا، په مشرۍ د باچا خان
په ملاتړ د ویښ ځلمیانو په نامه د سکولانو یو غورځنګ منځ ته
راغئ - چې بیا وروسته پکښې د ښوو (ځیوانانو) په نومونو چې هر
کسان شامل شو - چې په پای کښې په سیاسي ډلو او گوندونو
وویشل شو - د ډېری پښتونخواه ځنې سیاسي گوندونه لکه
د خلک ډیموکراټیک گوند، افغان ملت، مساوات، او شعله جاوید
د همدغه غورځنګ محصول دی.

او همدغه شان په سلگه پښتونخواه کښې هم د باچا خان
غورځنګ په ۱۹۵۷ کال کښې د نیشنل عوامي پارټۍ په نامه منظم شو
چې بیا وروسته ۱۹۷۵ کال کښې په نیشنل ډیموکراټیک پارټۍ
(NDP) بدله شوه. او یوه برخه ئي د مزدور کسان په نامه
پاده او بله برخه ئي د نیشنل عوامي پارټۍ پښتونخواه په نامه
پاتې شوه بیا وروسته د نیشنل ډیموکراټیک پارټۍ څخه
یوه برخه د نیشنل پروگریسیو او بله برخه د پاکستان نیشنل
پارټي PNP په نام بیله شوه - وروسته بیا دغه دواړه
برخې د پاکستان نیشنل پارټۍ په نامه یو ځای شوې.
۱۹۸۶ کال کښې ۲۶ جولای د میاشتې NDP په عوامي نیشنل پارټي
ANP بدله شوه - او د پاکستان نیشنل پارټۍ ځنې برخې، مزدور کسان

پکښې بیرته پو خای شو ـ

د پښتنو قومیت او سوسیالیزم ګوند (پښتون سوسیال ډیموکراټیک

پارټي (PSDP) هم د باچاخان د نظریو شیره حصول دی ـ

چه د عوامي نیشنل پارټي (ANP) او ویښ ځلمیانو

د غورځنګ داغیزه پری هم شته دی ـ



باچاخان د ۱۹۸۸ ع کال د جنورۍ په شلمه نېټه پېښاور
کښې وفات شو او د خپل وصيت سره سم په بره پښتونخواه
کښې په جلال آباد کښې خاورو ته وسپارل شو - او پدې
توګه د لر او بر پښتنون په منځ کښې لا والې محکم شو -

باچاخان د پښتنو شرو فلای تاريخ دی - چه تل به شاوندی
باني وي "دا هغه اولنی پښتون دی چه هغه توري په زور
نه، هغه د سردار په حيث نه بلکه د پښتنو په حيث ئې مبارزه
شروع وکړه. هغه کسبګر او پيشاورو [illegible] ملګه وروره په
شان احترام وکړ او وئې ويل چه تاسو ګی کمزوري هغه دي چه کارکاوي.
او د خاورې ته ساوي او يوه نازه ئې وکړه - که
دوه سپوږه وي او کړ يو شوي سره په شريکه به وي" (٦)

## اخستونځی

①

Kleines Politisches Wörterbuch
Dietz Verlag, Berlin 1973, S. 584-585

②

سرفراز خان عقاب خټک: "خوشحالنامه"
خيبرونګ د قومونو او قبايلو وزارت دولتي مطبعه کابل ۱۳۶۵ هـ

(۳)

Werner Stein: "Kulturfahrplan"
Berlin 1954, S. 858

Reisführer: "Afghanistan" Polyglott
Verlag München 1974

Mahmud, S. F.: "Geschichte des Islam"
München 1964, S. 695 ff.

(۴)

عبدالغفار: "زما ژوند او جدوجهد"، کابل دولتي مطبعه
۱۹۸۳ ع کال مخ لومړی

(۵)

خان عبدالغفار خان: "خدائي خدمتګاري" د پوهنې
مطبعه کابل ۱۳۴۴ هـ

(۶)

خان لالا محمد افضل خان، په پښتونخوا کښې اپریل ۱۹۸۷
لومړی ټوک، لومړی ګڼه

# عدم تشدد یا پاسیفیزم
# او ملي ازادي غوښتونکي غورځنګونه

لیکوونکی: ګرد دیرال

کله چې د هند په نیمه وچه کې د هند اولس د انګلیسي استعمار «ښکیلاک یا سامراج» او او استثمار یا زبیښاک - د منګلو څخه ځان خلاصولو او ملي خپلواکۍ د ترګوتو کولو په خاطر د هند د ستر لارښود مهاتما ګاندي په مشرۍ د پراخ لمن پاڅون لپاره په کلک شکل بهرې ووځلي - نو په دې وخت کې د هند اولس او په سرکې يي ستر لارښود ګاندي - د انساني غریزې د دوو مشبتو ارځونو - او ددې دوارو ارځونو - د غوښتنو د عملي کولو په ډګر کې د یو تضاد سره مخامخ وو.

او هغه دا چې له یوې خوا - دا ولسونو ازادي او خپلواکي - او ددې خپلواکۍ د ترګوتو کولو

په لیار کی مبارزه او قربانی - انسانی مقدسات او لوړ ارزښتونه دی. او له بلی خوا دا چی د هند داولس په وجود د انګریزی ښکیلاک خاماړ پروت ؤ، چی د انسانی فطرت په دغو لوړو ارزښتونو ئي د زور زیاتی کړ عښیږه خښیپه اچولی وه.

دغو ارزښتونو ته مي د قدر په سترګه نه کتل او خپله استعماری ګمن ئي د هند د خاوری څخه تش داولسونو د حقه حقوقو د نمو ښتو په بنیاد د دوی برخند بی له وسله والی مبارزی څخه نه کولو له.

د خپلو اکی غوښتنلو او د عدم تشدد د فلسفی او سیاسی ایډیالوژی دسوله ایز درېځ تر منځ نو د سله والی مبارزی ته اړ نتیا - د لتضاد تکلی ؤ.

خو منفید ګاندی د خپلی سیاسی پوهی او شاهکاری په بنیاد - د ملی خپلو اکی تر لاسه کولو په لمرکی دا ده بنو دله - چی د دی دوا پرو ارزښتونو د خوندی ساتلو لپاره - نه باید چی د یو ارزښت معنوی محتوی د بل ارزښت قربانی ښی.

خان عبد الغفار خان - مشهور په پاچا خان -

چې د پښتون اولس له خوا د فخر افغان لقب ورکړ شوی دی - د هغه د ازادۍ په لیاره کې د ګاندي یو عمومره ملګری وو.

خدای بخښلی پاچا خان چې لږه موده مخکې په حق ورسید - د ګاندي د مرګ څخه وروسته په نړیواله سویه - د عدم تشدد د فلسفې او سیاسي تګ لارې یوازینی وارث وو.

دی نه یوازې د لوی او بری پښتونخوا بلکه د ټول افغان اولس د ستر ویاړ لوړ شخصیت وو.

ده د پښتون اولس د تامې ازادۍ لیاره د خپلې اوږدې مودې مبارزې په ترڅ کې د سولې او امن او زور زیاتي څخه د ډډې کولو سره تل په کلکه پلوي ښودلی وه.

پښتانه د خپل ستر لارښود پاچا خان په لیار کلک ولاړ دي - او هیڅکله به د انساني لوړ ارزښت تر پښو لاندې نه کړي.

خو د خپلې ملي خپلواکۍ د حق څخه هم تیریدونکي نه دي. د انساني لوړو ارزښتونو خوندي ساتل

او تری د فاتح ګول - د نړۍ په دټولو سوله خوښوونکو
اولسونو ګډه دنده ده.

ځکه نو په کار دی - چی د نړۍ په ټول سوله خوښوونکی
اولسونه د پښتنو د ملی حق یعنی ملی خپلواکۍ د
سره په کلکه ننګه او ملا تړ وه کړی - د دی لپاره
چی دی ته ایرتیا پیدا نه شی - چی زر د زیاتی او
وسله والی مبارزی څخه کار واخیستل شی.

• وه دی شی چی پښتانه د خپلی ملی خپلواکۍ د
ترلاسه کولو په لیاره کی وسله والی مبارزی ته
اړ نه کړی شی.

• پښتانه د نړۍ د سوله خوښوونکو تامولو
په کتاروکو کی - خپل ملی حق - ملی خپلواکۍ د
غواړی - نه ددی نه ډیر او نه ددی نه لږ.

- ژوندی دی وی ملی ازادی غوښتونکی
غورځنګونه.

- تل دی وی د سوله خوښوونکو اولسونو ترمنځ
ملګک پیوستون.

«لیکوونکی علی خان»

# د پښتو لیکوالنه او باچاخان

خان عبدالغفارخان مشهور په باچاخان چې د افغان روش له خوا فخر افغان لقب ورکړه شوی دی په 1890 ووم عیسوی کال په کوزه پښتونخوره کې زیږیدلی دی



«علی خان د باچاخان سره»

ځکه چه په پښتنوکې د زیږیدو نیټې لیکل دومره مروج نه دی لو در نیټه هم تخمینی - نیټه ده.

کیدی شی چه اصلی نیټه کال نیم لوړه او یا ټیټه وی.

پاچاخان هغه وخت د دنیا په مخ سترګی وغړولې کله چه رنګیش د پښتنو په خاوره استعماری منګولی لګولی وی.

خدای بخښلی باچاخان چه د پښتنو لوی مشر او رهبر وو د ۱۹۸۸ ع د م عیسوی
کال د جنوری د میاشتی په شلمه نیټه په پیښور کی وفات او د جلال کوټ
په باړکی د ده د وصیت سره سم خاوری ته وسپارل شو.

باچاخان د بهرام خان زوی د سیف الله خان لمسی د پښتنو د محمدزیو ایالو
د قبیلی څخه و او چه د پیښور ښاره نږدی د اشنغر کی میشته وو.

باچاخان به ماشوموالی کی د مور ډیر نازولی زوی او په مور باندی ډیر ګران وو.
دی په خپله لیکی چه کله به چی څه سر شانته تکلیف راته پیدا شو نو -
چغی به می وهلی او مور می ډیره په عذاب کړی وه.

او چه لږ غټ شوم نو کله څنګه چه د کلی د هلکانو عادت وی نو د غلی د
کندو څخه به می پټه غله وړه او د کلی د هټی وال نه به می د خان لپاره
شیان پیری اخستل.

کله به چه مور خبره شوه نو څه خو به ئی راته نه ویل خو بیا هم غوږ به ئی را باندی
و کړه چه قسم ښه څه کوی. لږ په درسی وخت کی به ما دوه پیسی خپلی
او دوه بیرته دی او یا میندی ته تری ورتښتیدم.

باچاخان به ماشوم و لکه چی لومړی د خپل کلی شره نږدی د اسکند ویری وو.
لکه چه ډیره نا څاپی شوی لیدلی نه وی او د ښیند څخه ئی را وتښتیدای
نه وای لیدلی به ئی مړ وی.

لو کله د دی پیښی څخه روښانه ده چه د ده مور دی ته په ښیند کی د
لمبا کولو اجازه نه ورکوله،

پاچاخان د ښوونځي لومړنۍ زده کړه د خپل کلي په لومړني ښوونځي کې ترلاسه کړه او بیا پېښور ته ولاړه.

پاچاخان د هلکوالي نه غریب پسنده طبیعت درلود او ډېر زیات د خلکو د خدمت شوق یې وو.

پاچاخان د پښتنو په داسې ټولنه کې پیدا او رالوی شوی دی چې د ټولنیز پرمختګ په لور یې لوی لوی ګامونه اخیستل ځکه نو زر زر به لویو لویو او لوی خبرې منځ ته راتللې.

په دغه وخت کې انګریزان د سمندر د غاړې له خوا هند ته راننوتلي وو او په چل ول کې یې د هند قبضه کول غوښتل.

په 1757 م عیسوي کال کې (د پلاسي جنګ) په لومړي د انګرېزانو او بنګالیانو تر منځ جنګ وشو په کوم کې چې بنګالیانو ماتې وخوړه.

که څه هم د انګرېزانو لپاره د هند وخت لومړنی پیښه او خو بیا هم ښه وخت نه وو ځکه چې په دې وخت کې لوی احمدشاه بابا ژوندی وو او په دې موده کې یې په 1761 م عیسوي کال کې د هند مرهټیانو ته سخته ماته ورکړې وه. د انګرېزانو ښه پوره اندېښنه وه چې احمدشاه بابا به اوس دوی د هند څخه وشړي.

خو له دې کبله چې احمدشاه بابا د کورنیو ارنجو او بهرنیو شخړو اوس په ګیر وو. او په پنجاب کې سیکانو هم بې امنیتي راپیدا کړې وه او د انګرېزانو له غیر مستقیمو لارو په کار اچولي چې احمدشاه بابا یې په دې کښتو بند

پرنګيانو په څنډه باندې د خپل استعماري جښتی اچولو شره څو وخت د دې پرېکړه
هم وکړي وه چې څنډه ژبه باید د دې سيمه کې هم د مسته کاري او استعمار ژبې
په لټه کې تينګه وکړي لوند بلوڅي او د وګستي ادارو غلتي چرګه اوتلو کرېډ
په د دوی په ارش کې وی څو وړی لو کړېد په ټکه پولش - ساپ څپان
ورباره افسران د اولو او ماموران په څنډه پاکو او بنګاليانو کوي .
يعنې دوی به د پرنګي د اډل د دل لو باده.

انګرېزانو د خان شره څنډه ته چنين قانون راوړی وو. د قانون
څنډه ته او څه ښېره پښتنو ته لوی او ناشنا وو.
انګرېزان په دې پوهېدل چې دوی څنډه وال او پښتانه د دوی د راوړی
قانون په حرامنو کې ښه رسنګيلو اری شي. څنډه قانون هم د انګرېزانو
څخه يو قسم وو او د پښتنو قانون څخه ګيسته لوی وه.
لو انګرېزانو د څنډه او کوښښ کاوه چې پښتانه په کلو او بالډو کې د
دوی د قبايلو او ښاده ژملد د مناسباته څخه عصري ژوند مناسبات تو
وارکش وکړي . او په دې ټولو کې خان ته ارکا او محتاج وکړي.
کله چې انګرېزان له مضبوط اصول لو کوزه پښتنو نخواه کې هم باید دري
سرحد و ويشلو يوه سرحد کې سرحد لوی بلوچستان لوری ورته د وهمه سرحد ته کې
قبايلي لوګام ورکړ او په درېيمه سرحد کې سنډه وبشتي ضلع لوګم ګيښبود.
د غه درېيمه سرحد بيا په 1901 کال کې خان ته جلا صوبه شوه.

او ډېرو کې مشغول شاتې وو . د انګرېزانو د شملو لپاره شرایط سنبه نه وو .

د 1973 وم عیسوی کال په پای کې د احمدشاه بابا د مرګ وروسته د اوس لوی
افغان څوک پاتې نه شو چې د احمدشاه بابا د ستر میراث وساتي .
د کوزي جنګونو او د سردارانو د بیوسی شره دوکو او خیانت کولو د افغان
ممالکو قوتونو لوته دا موقع په ارش ورکړه چې ځان محفوظه کړي . د
دغو حالاتو په نتیجه کې د پښتنو سردارانو ستر خیانت وکړ . کوزه
پښتونخوا يې سیکانو ته پرېښوده او په منظره کلابن ته وغښتېدل
په دې پښتې د سیکانو د وحشت د دورې پښتې په 1848 وم عیسوی کال
د پېرنګي د وحشت دوره په پښتنو باندې شروع شوه .
انګرېزان دومره دومره مضبوط او غښتلي شو چې په 1893 وم عیسوی کال کې
يې په زور افغانستان په دوه ټوټو وویشه چه یوه ټوټه یې په مستقیمه توګه
اوبله ټوټه يې په غیر مستقیمه توګه د خپل اختیار د لاندې تر اوسه لاندې او
مستعمره وه .

د انګرېزانو د استعماري ارش غزوني ځمکې ځمکې په ځنګو ی دوه چې له لیارې -
لکه د خیبر - ګومل - بولان او کوټم له لیارې استعماري هر یاد وینه کېدل
او د ارلوړی څل وو چه د اولو له لیارې په دوی باندې استعماري هر یاد وینه
وشو . انګرېزانو د ځان څنګه د لوی مساعد ژوند اقتصادي منابات
او وشاين هم راوړی وو دکو موشره چه د حسند خلک ارپه تیده بیا -
پښتنانه هیڅ رسنا نه وو .

( پاتې په بله ګڼه کې )

## کابل راډیو او د هغې د خپرونو اغیزو ته
## یوه لنډه کتنه. (۱)

لیکوونکی پښا جهان

په پښتونخوا کښې د راډیو غږ په هغه وخت کې واوریدل کله چې په ډیرو اسیائي، افریقائي حتیٰ ځینو اروپائي هیوادونو کښې راډیوئي خپرونې چا نه پیژندلې.

ددې حقیقت علت سبګاره خبره ده - چې د امان الله خان هغه هلې ځلې وې - چې غوښتل ئي افغانستان د نړۍ د لږ بر مختلوونکو هیوادونو په کتار کښې ودروي.

د شلمې پیړۍ په دویمه لسیزه کې - چې راډیو لا د خپلې ودې په لومړنیو پړاوونو کښې وه - امان الله خان د دغې عصري وسیلې مهم رول ته پوره پام شوی ؤ.

---

(۱) - د کابل راډیو په هکله لنډه موده مخکې ددې مضمون د لیکوال له خوا یوه علمي څیړنه شوې ده.

په دې باره کښې لږ لښیره معلومات به د پښتونخوا په راتلونکو ګڼو کې - ګرانو لوستونکو ته وړاندې شي اوس په لنډه توګه د څیړنو ځینې مهم ټکي وړاندې کیږي.

پاچا امان الله خان - په بیره دلنوو معلوماتو سره د اولس آشنا کول - د حکومت د اصلاحاتو څخه د خلکو خبرول او د اولسي بنوونې او روزنې د تر لمو لو هم کار سرته رسول - د راډیو له لیارې لیدل.

د افغانستان حکومت په 1925 عیسوي کال کښې د المان د ټیلفونکن Telefunken د کمپنۍ د "شرکت" څخه یو دوه سوه واټه "200.W" ترانسمیټر واخیستاو په کابل کې وه لګولو.

او دا که څه هم هغه وخت حکومت د ډیرو ستونزو او ربړو سره مخامخ وُو. د مثال په توګه د برېښنا دلیږدو نه رسیدو او ربړه - د راډیو د تخنیکي فني کسانو لږوالی د خلکو غربت چې د راډیو د اخستلو توان یې نه لاره - او په همدې ډول ددې عصري وسیلې په ضد د فیر رڅي ملایانو راپاڅیدل. په همدې شان لوړي ډیرې ستونزې او ربړې هم وې - خو ددې سره سره حکومت په دې لاس بری وه موند - چې کابل راډیو په 1925 عیسوي کال په څپرو نو پیل وه کړي. هره ورځ په د کابل د ښار او سیدونکو دوه ساعته د کابل راډیو پروګرام اوریده.

خو کله چې په 1929 عیسوي کال کښې بچه سقاو - د امان الله خان څخه د دولت واګې تر لاسه کړې، نو بیا

د هیواد د لوړو اصلاحي او پرمختلونکو پروګرامونو د شنډیدلو تر څنګ ، د کابل راډیو څپرونې هم ویجاړې شوې او هر ناڅه یولس کاله د افغانستان وګړي د راډیو د څپرونو څخه بې برخې پاتې شو .

د کابل راډیو اوسنۍ ودانۍ د ۱۹۶۵ عیسوي کال د اګست د میاشتې په ۲۳ نیټه د پاچا ظاهرشاه د وینا د خپرولو سره پرانستل شوه ، چې نن سبا یې نه یوازې په ټول افغانستان بلکه په همدې څېر د نړۍ په لوړو ډېرو ګوټونو کې هم اوریدل کیږي .

دا چې کابل راډیو د خپل پرمختګ د کومو پړاوونو څخه تیره شوې ده - نن ورځ د کومو ستونزو دا ورسره سره لاس په ګریوان ده او دا چې باید کوم بدلونونه پکې راوستل شي - دا لا درسې پوښتنې دي چې ځان ته جلا په کار دي چې په بشپړه توګه پرې رڼا واچول شي .

اوس یوازې ځینو مهمو ټکو ته پاملرنه را اړوو .

دا ښکاره خبره ده چې راډیو نن ورځ په ټوله نړۍ کې او په تیره بیا په دریمه نړۍ کې چې د پرمختیایي هیوادونو لپاره په پراخه پیمانه د سمدستي معلوماتو په لاس راوړلو لپاره یوه اسانه او ارزانه وسیله ده .

خلکو د افغانستان حکومت ته هم په کار دی چی ددغی
وسیلی څخه پوره کار واخلی . په لنډ ډول بایده دی چی سری
دغو مهمو ټکو او پوښتنو ته د هیواد مخکښانو او زړه ورو
کسانو پاملرنه واړوی په کومو باندی چی په کار دی
هرو مرو پوره غور وشی او ژر تر ژره ئي د حل لیار
وه موندل شی

آیا د کابل راډیو د خپرونو څخه افغان اولس ته گټه رسیږی؟
او که نه نو بیا د کوم هدف لپاره په کار اچول شوی دی .

که چیری سری د هغو هیوادونو - چی مختلف نامونه
یا ملیتونه په کی ژوند یکی کوی - د حکومتو د خپرونو ،
اصلا معالوماتو د ښوونی او روزنی د پروگرامونو پالیسی او
سیاست ته پوره په غور سره شی او تر کره څیړنی لاندی ئي
ونیسی نو ډیر ژر به ورته دا په ډاگه شی چی د راډیوګانو
خپرونی په دغو هیوادونو کښی د ټولو ملیتونو لپاره بیل بیل
په ځانگړو وختونو کښی ددوی په مورنی ژبه او په ځانگړی توگه
گیږی . د افغانستان په گاونډی هیوادونو - شوروی اتحاد
ایران ، پاکستان ، د چین اولسی جمهوریت او ددی سیمی په لوړو
شاه هوار هیوادونو لکه هند او سری لنکا او په همدی راز
د افریقا دلوئي و چی هیوادونو لکه حبشه ، نایجیریا او

اروپائي هیوادونو لکه سویس او بلجیم کې په همدغه ډول کیږي. یعنې په ټولو دغو هیوادونو کې - چې ځینې میلیتونه په ګډه سره دوه دوه ګډوي ژوند کوي د رادیو ګانو خپرونې په تمامو ژبو او خپرو بیل بیل او په ځانګړې د ټولو میلیتونو په مورنۍ ژبه کې وړاندې کیږي. په دې توګه تري د هیواد بې سواده وګړي هم پوره ګټه خستلای شي.

نن ورځ د نړۍ په هر ګوټ کې افغانستان یوازینی هیواد په سترګو ښکاري چې تر اوسه پورې د رادیو خپرونې په دري ژبه لا روانې دي چې مثال يې بل هیڅ چیرې نه شته. او دغه دري چې په پښتو او دري ژبو - لکه څنګه چې ویل کیږي - نیم په نیمه خپروني کیږي. ډیره عجیبه او د حیرانتیا وړ خبره يې داده - چې دا خپروني په دري ډول وړاندې کیږي چې اوریدونکي نه پوهیږي - چې اوس په پښتو راځي او که دري!

دلته د پښتنو راولاړیږي - چې آیا د کابل رادیو د خپرونو دغه بڼه او تسلسل - چې په ټوله نړۍ کې يې ځانګړې مثال دی د اوس په ګټه ده او که نه؟

له دې څخه ځکه دی پښتنو ته ځواب ورکول په کار دي.

آیا د افغانستان د ټولو ملیتونو ډیره کې چې په سلو کې ۹۵ برخه جوړوي او بیسوادان دي په دواړو ژبو پوره پوهیږي؟

آیا د پکتیا یو پښتو ژبی بیسواده افغان د دی جوګه دی
چی په دری ژبه پوه شی او آیا د پنجشیر یو دری ژبی افغان
چی بیسواده وی د راډیو د پښتو خبرونو څخه مطلب اخستلای
شی. د افغانستان د لږو کوچنیو ملیتونو لکه هزاره
ازبک، ترکمن او نورو خو جلا بحث دی. ځکه د دوی
په ژبو خو هیڅ خبرونی نه کیږی.

د دغو واقعیتونو په رڼا کی نو دا روښانه خبره ده - چی
د کابل راډیو خبرونه یوازی او یوازی د هغو څه ناڅه ۵
په سلو کی سواد لرونکو وګړو لپاره کیږی چی په دواړو
ژبو پوهیږی او یا لږ یا ډیر مطلب تری اخستلای شی.
پاتی 95 په سلو کی وګړو ته یی هیڅ پاملرنه نه ده شوی.
په کار خو دادی چی د راډیو افغانستان آواز د هیواد هغو
بیسواده وګړو غوږو ته ورسیږی چی د مرکز څخه لری
په غرونو، درو او کلو او بانډو کی ژوند کوی او یوازی د
راډیو له لیاری کولای شی چی په هیواد او نړی کی حالاتو
څخه خبر شی.

ځکه به نو دا غوره وی چی د کابل راډیو ذمه وار کسان
پر دغه ادسمد بی ګټی او بی اغیزی مینه کی د خپلو خبرونو په
سیاست کی ژر تر ژره بدلون راوړی. او په بیلا بیله توګه

په پښتو او دري ژبو کښې په ټاکلو وختونو او ځینو خپل پروګرامونه
خپاره کړي. او د هیوادوالو د ملیتونو د شمیر په اندازه
دهغوی په مورنۍ ژبو خپرونې وکړي.

---



«درونه مشر اجمل خټک او درونه مشر خان الافضل خان»

---

هر خوا نه چغې دي ښتان جوړوو
یو وائي ځمکه بل آسمان جوړوو
راځئ چه او ګرځو تري تپوس پښتنو
مونږ ښتانان یو که نه ځان جوړوو

(اجمل خټک)

## خبریال: همایون

# مطبوعاتي کنفرانس

### بن: ٢١ دسمبر ١٩٨٧

دلیبنستو دلوټلیز اولسولیز لوګند مشر د دولتوړ ګبیر-
ستوړي وینا.

دړنو میرمنو او غاښلو

د شوروي اتحاد او د افغانستان د ځای پر ځای دریلي شپږ-
کاله تېر مرسته دریز وړوشته په مسلو او کابل کښي د ځواک ښې لون
راهښي په سیاسي محنه کښي مړښت راغلي دي. د دي لپاره کښي نښاني
د دولتوړ نجیب الله د ملي روغې جوړې سیاست دي چه د خلکو د-
د لیمو لړاتبلګ ګړند دعموي موښي پړلي له د تیا کلو وړوسته-
شمدستي ي پیل لړیږي. ځکه چه تاشي خبري هغه متاومت لو د نلي دلو
ته د اوړ بند او خبر وبلنه ورکړه.

له په مطبوعاتي هنداره کښي ولس نښي لو تر اوسه لیږي د وږالستي

صلاحیتونو لرونکی د اشرافو مخالفو ډلو شره وه او د دیموکراتیکې
مخالفې ډلې هم او یادې شوې نه دي.

د پښتنو قبیلو اولسوالیو لخوا د دیموکراتیک نوابو د یرې
بې پرلوګه دوه ځلې د افغانستان د پارلمان په هکله د خپلو وکیلانو
کابل ته میلمه شویدي. د خپلو ورځنیو چارو په پام کې نیول شویدي
په دې مېشت کې زمونږ د ګډ ژوند ته په لویه جرګه کې د ګډون ځینې پالنه را برسېره شوي
لویه جرګه د افغان اولس لویه عنعنوي غونډه ده د غې جرګې د پریکړې
راتلونکي مهمې برخې چې د دولت (ریاست) د صلاحیت څرګندوي حل کېږي
او په عملي ډول د دولت (ریاست) بنسټونه هم ټاکلي ده.

د مثال په ډول په ۱۷۴۷ ع کال کې احمد شاه بابا چې د افغانستان
پاچاهي یې جوړه کړه او مرکزي قندهار و د لوی جرګې له خوا د پاچا په توګه
وټاکل شو. لوی مثالونه یې د ځینو لویو وپه ارمغان کې.
په ۱۹۲۴ کال کې په جلال آباد کې لویه جرګه وه چې د افغانستان لومړی
اساسي قانون یې پاس کړ او هېواد د بشپړه خپلواکۍ د پاچا امان الله
د اصلاحاتو سیاست یې تائید کړ.
بل مثال په ۱۹۶۴ ع کال کې په کابل کې لویه جرګه ده چې د لوی اساسي
قانون منظور شو ده یې ورسته د حکومت شمېر تغیرات څه تائید کړه.
د لوی جرګې عنعنوي ارزښت له کبله د پښتنو قبیلو اولسوالیو لخوا
د ۱۹۸۱ ع کال د اکتوبر په میاشت کې د شورلي په نوښت کې د لوی

جرګې د جوړېدو غوښتنه کړېده تر څو چې په دې توګه د افغان
اولس نماینده ګانو ته د دې فرصت ورکړل شي چې د خپل هیواد
راتلونکي په هکله په خپله پرېکړه وکړي.
د شورې دغه نوښت په هغه وخت کې د ملګرو ملتو موسسې د
بهرنیو چارو وزیرانو ته دستور ورکوي د بهرنیو چارو د وزیرانو په
شمول او د عامه ژوند نامتو او مهمو شخصیتونو ته وړاندې شوی و.
خو اوس لږ څه د مخه په کابل کې د ۱۹۸۷ ع کال د نومبر د میاشتې
د ۲۹ نېټې څخه تر ۳۰ نېټې پورې لویه جرګه جوړه شوه. په دغه
لویه جرګه کې د اولس مختلفو قشرونو د دولت مختلفو سازمانونو
او ګوندونو (۱۴۵۰) تنو نماینده ګانو برخه اخستې وه.
دغې لوی جرګې د افغانستان لوی اساسي قانون پاس کړ او په
عین حال کې د دولت رئیس نجیب الله د جمهور رئیس په توګه وټاکه.
په دې توګه شره د ډېرو ګوندونو د اداري د معنوي پارلمان د جوړېدو
د لښکر د بریا په رښتنې توګه کېښودل شوه. زموږ لوی شمېر وړاندیزونه
( پیشنهادونه تجویزونه ) هم په اساسي قانون کې مراعات شوي دي.
د څېړنو او شریکه په لړ کې سیاسي او اقتصادي ژوند کې
د ډېرو قومونو په دولت کې اوسیدونکو قومونو لکه -
پښتانه - ازبک - تاجک - هزاره - ترکمن او بلوڅو
ته عادلانه برخه ورکول. دغه اساسي قانون د افغانستان په
.

په تاریخ کښې د هر یو اساسي قانون څخه منتزع دی خو دی ته انتظار
پکار دی چې په لومړه اندازه شپږ دغه اساسي قانون عملي کړي. ځکه د
حدغمي دپاره شرط د ټینګښت شوی سیستم لېښتمې اصلاحات دي ګیمي د دولت
او د خلک د دیموکراسۍ ټینګښت څخه دغه بېلونه ده ترڅو چې لفرو ګلونه و لرځخې و لونته هم
لوښانه چالیښې ورکړې شي. همېغه ده چې د اساسي قانون په جوړولو کښې
راتلونکي دولتي قانونونه په دیموکراتیکه بڼه کښې جوړیږي.

د دولت د نجیب الله قناعت بخښونکي خبرې کوي، او زه وغمې جوړې ته تیار دی.
ما ته د احساس پیدا شوی دی چې دی واقعاً ملي روغه جوړه غواړي.
خو د ده په چاپېریال کښې داسې کسان هم شته چې د خپلو امتیازاتو
د لاسه ورکولو څخه بېرېږي او د دغې هڅې په مقابل کښې مقاومت ښکاره
کوي. دا د امکان نه لرې نه ده چې د ګورباچوف او ډوکتور نجیب الله مخالف
کسان ګډ کار سره وکړي. په دې هکله د ګوري څخه په ستره کې اولس ته اوازه
شته دی چې د دولت نجیب الله په شان د ملي روغې جوړې د ادامې هیله لري.
داوکه د افغانستان د دریمې ملي الرغ.

د دلف میرمنو او ښاغلو: لکه څنګه چې تاسي ته معلومه ده د افغانستان
جګړه په دې میڅ کښې نړیوال شویه دغه د واړه اړخونه لوډیل ته
اړ ایستلي دي.

افغان اولس دیرو فورتونو څخه دا هیله لري چې د دې بېل خوارک د جګړې په ځای
د سولې لپاره په کار واچوي. زمونږ ګوند د دیموکراسۍ او د افغان

اولس د قامي علايقو د يوه نماينده په توګه د اغوستنه لوی
چې د اولس اراده چې د لوی جرګې په واسطه جوړه شوېده او د افغانستان
په لوړی اساسي قانون کې ليکل شوېده عملي شي .

دغه شوله ازادي ، خپلواکي ، دیموکراسي او نا پیلتوب دی -
د افغانستان څه د ټولو شوروي په څولو وتنه او د هر ډول پردي
ګوتی وهنی (مداخله) بند ونه ده .

ستاسو د غوږ البیسو دو څه خوښه .

**پوښتنه :**

ښاغلی د وکتور دستوری تاو دیل چه زمونږ ځینی وړاندینی دپیشنهاد (ونه)
پر اساسي قانون کې مراعات شوي دي - د ځینو لوړو په څوا کې د افغانستان
د ډیرو قومونو په هیواد کې مختلفو قومونو ته عادلانه برخه ورکول .
کولی شي چې د اخبره لږه نوره مشخصه کړی .

**ځواب :** افغانستان د ډیرو میلیتونو هیواد دی دغه ټول میلیتونه
له غټو وړو له واړه ور ونه دي کې اوتاوان ئې سره شریک دي -
لنډه د اچه د یوه لاشه لوټي دي چې په لړه د ډ د وي لوی بند ې
اغیزی ښیاتی ګړی . کله چې مونږ د وړو میلیتونو څه خبره کوو -
لوړو ونه لیوبرابر دي . په کار ده چې هر وړ وړ ته خپل حق په ټولو لنیز
سیاسي او اقتصادي ژوند کې ورکړ شي .
له بده مرغه د پاچاهي په وخت کې زمونږ د لږ شمیر وړو ملیتونو -

حقوق غصب شوي و حتی د ځینو ملیتونو په ژبه کښې الفبا هم نشته دی موږ ژبنیو څوانو مطبوعاتی کنفرانس کښې د افغانستان لوټولو ملیتونو ته د عادلانه او برابرو حقوقو د ورکولو غوښتنه کړې وه چه د ۱۹۶۰ ورش په اساسي قانون کښې راغلي ده.

**پوښتنه :**

مطلب دې د ښځو او سړو ورشت هم دی ؟

**ځواب :** هو موږ دا غوښتنه هم کړې ده چه هر ملت فردی په خپله مورنۍ ژبه د سړو او ښځو امکان برابر شي .
دی پوښتنې ته هم په اساسي قانون کښې پاملرنه شوې ده خو شمه شتی عملی لیدل نشي . په راتلونکی کښې هیله ده چه عملي شي ځکه چه په مورنۍ ژبه د سړو او ښځو د پاره شرط سړو ونلي او لټولو نه دي چه د غه کار ته وخت غواړي .

**پوښتنه :**

د شوروي پوځونو د وتلو او هر ډول په دې مداخلې بشپړ لو غوښتنه کوي ایا د شوروي اتحاد د مداخلې شر پیژ به مداخله هم شته دی ؟

**ځواب :** موږ په دې عقیده یو چه شوروي یان د خپلو پوځونو د موجودیت په واسطه د افغانستان په چاره کښې مستقیمه برخه لري او امریکایان د پاکستان د لارې غیر مستقیمه برخه لري مطلب د هر ډول په دې مداخلې څه غیر مستقیمه مداخله ده چه چینایان

هم په دې کښې ماتلې شي.

پوښتنه:

تاسو په خپل هیواد کښې د اسلامي بنسټپالنې اغیزه څومره احتمال

کوئ.

ځواب:

مونږ افغانان مسلمانان یو اسلام زمونږ د کلتور یوه لویه برخه

ده. اسلام زمونږ عنعنه ده د اسلام مونږ پالنه کوو خو دولت پکار

دی چې د سیاسي او د عنعنوي اسلام په منځ کښې توپیر وشي.

عنعنوي اسلام په مونږ غښتلی دی خو سیاسي اسلام غښتلی نه دی.

له دې کبله د بنسټپالنې اغیزه دومره زیاته نه ده لکه څومره

چې په لویدیځ مطبوعاتو کښې ښودل کیږي.

پوښتنه:

له چیرته پاکستان د ټینګو په خبرو اترو کښې د سرحد ولی لري -

د ډیورنډ لاین یوه برخه منځ ته واچوي ستاسو خیال په دې کښې څه دی؟

ځواب:

د سرحد ولی د برخې د ټینګ د خبرو اترو او د پاکستان لوري اړه

لري بلکه لویه لوبه موضوع ده.

تحلیه چې دغه د بره د برېټانوي هند په وخت کښې په ۱۸۹۳ کال کښې
د انګلیس ناولې له خوا د پښتون اولس د ارادې په خلاف راښکل شوی ده.
کرښې راهیسې پیدا شوې.
تر اوسه پورې د پښتون اولس چې نسلي - مذهبي - کلتوري جغرافیایي
او اقتصادي وحدت دی دغه استعماري کرښه منلې نه ده او نه به یې
ومني او نه دغه شان کرښې پښتون اولس په عمل کښې بېلولی شي.

"ځاپي"

# بلنه

ورشئ پښتنو چې پښتنو له شره وکړو
په یوه مرکز راغونډ شو د زړه خوله شره وکړو
وشیمو د رالوی کېږدۍ اندېښنې خپلې
پټ پاندې جرګه شو منځه پښتو له شره وکړو
و دې له دښمنی کړو په جرګو او مرکو خپلو
پریکړې وشي کړو ولسو له شره وکړو
بیا د پښتنو لوی ورور ګلوي تر یلوه شو انډې
غوره شو هر ار کړو تحفو نو له شره وکړو
وسپمړو غوښتې د ارزو ګاله شیرې کې بیا
لتول سره پېنځلا شو منلو اله سره وکړو
وسیارو تاریخ ته بیا ننګ او د غیرت ځای
لتول شو شره لیونشو رتلو اله سره وکړو




که سپوره وی که پوره وی په شریکه به وی

( باچاخان )

*Das Brot, ob belegt oder trocken, wird unter allen gemeinsam aufgeteilt*

*(Batscha chan)*

*Buttered or unbuttered bread will be common (Bacha Khan)*

JAHRG./ VOL 2 Nr/No 2

# PASCHTUNCHWA

# PASHTOONKHWA

ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN PARTEI DER PASCHTUNEN

ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY

## PSDP